**د پوښتنو تعداد:( ۱۱۰ )**

**د پښتنو ډولونه ( تشریحی، څلور ځوابه، ، لنډ ځوابه)**

**د مضمون عنوان: ( تفسیر شریف)**

**ټولګي: ( یولسم )**

**د یوولسم تفسیر شریف تشرحي سوالونه:**

**لومړی سوال:** په کایناتو کې د الله تعالیٰ د وجود او وحدانیت دلیلونه ولیکئ؟

**دوهم سوال:** : لاندې قرآني کلمې معنا کړئ؟

**(خَلَقَ، الْسماوات، دَابَة، وَ بَثَّ، الْمُسَخَّرِ، السَّحَابِ)**

**دریم سوال:** پوښتنه: د لاندې آیت شریف ژباړه ولیکئ؟

﴿إِنَّ فِى خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَاخْتِلاَفِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَالْفُلْكِ الَّتِى تَجْرِى فِى الْبَحْرِ بِمَا يَنفَعُ النَّاسَ﴾.

**څلورم سوال:** په آیت کې د السماوات لفظ په څه دلالت کوي دلیل یې ولیکئ؟

إِنَّ فِى خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَاخْتِلاَفِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَالْفُلْكِ الَّتِى تَجْرِى فِى الْبَحْرِ بِمَا يَنفَعُ النَّاسَ﴾.

**پینځم سوال:** د الله تعالی د وجود او وحدانیت په اړه چې د بقرې سورت (۱۶۴) آیت شریف راغلی څو دلایل ذکر شوي دي فقط شمیر یې ولیکي؟

**شپږم سوال:** د انسان لپاره د ځمکې څلور ګټې ولیکئ؟

**اووم سوال:** د شپې او ورځې دوه ګټې ولیکئ؟

**آتم سوال:** لاندې آیت شریف وژباړئ؟

﴿وَتَصْرِيفِ الرِّيَاحِ وَالسَّحَابِ الْمُسَخِّرِ بَيْنَ السَّمَاءِ وَالأَرْضِ لآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يَعْقِلُونَ ﴾

**نهم سوال:** د الْسَّحابِ کلمې راوړل له الرِيَّاحِ څخه وروسته د څه لپاره وې لیکئ؟

**لسم سوال:** که چیرې الله تعالی بادونه له لګېدو څخه منع کړي څه به پیښ شي، ویې لیکئ.؟

**یوولسم سوال:** د الله تعالی نعمتونه په څو ډوله دي؟

**دوولسم سوال:** په طبیعت او کایناتو کې فکر کول د څه لامل ګرځي ویې لیکئ؟

**دیارلسم سوال:** د دې آیت شریف إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ ........... **په هکله چې دغه حدیث شریف** راغلی ویې ژباړئ؟ ﴿ ویل لمن قرأها و لم یتفکر فیها﴾

**څوارلسم سوال:** لاندې کلمې وژباړئ؟

الليل، النهار، فلک، الريّاح.

**پينځه لسم سوال:** وريځې د الله تعالی د قدرت له نښو نښانو څخه بيان شوي دي، په دې هکله يوه کرښه معلومات وليکئ؟

**شپاړسم سوال:** د باران د اوبو په وسيله د ځمکې له ژوندي کېدو څخه مطلب څه دی؟

**اووه لسم سوال:** د دنيا په موجوداتو کې تفکر او تدبر د علم او ساينس په حقايقو کې څېړنه او پلټنه او د علمي اکتشافاتو په اسرارو پوهيدل د څه لپاره دي ويې ليکئ؟

**آته لسم سوال:** لاندې قرآني آيت وژباړئ؟

﴿ وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنسَانَ مِن سُلَالَةٍ مِّن طِينٍ ، ثُمَّ جَعَلْنَاهُ نُطْفَةً فِي قَرَارٍ مَّكِينٍ ﴾

**نوولسم سوال:** : لاندې قرآني کلمې وژباړئ؟

[ سلالة، نطفة، قرار مكين]

**شلم سوال:** لاندې کلمې معنا کړئ؟

[علقة، مضغة، خلقا آخر]

**يووشتم سوال:** د انسان د پيدايښت دوهمه مرحله له کوم ځای څخه ده ويې وليکئ؟

**دوه ويشتم سوال:** لاندې عبارت څه معنا لري؟

[فكسونا العظام لحما]

**دری ويشتم سوال:** د نطفې اطلاق په څو شيانو کيږي فقط شمير يې وليکئ؟

**څلور ويشتم سوال:** د انسان پيدايښت څو مرحلې لري، ويې ليکئ؟

**پينځه ويشتم سوال:** د جنين د جوړښت له اووه مرحلو څخه د دوه مرحلو نومونه وليکئ چې په قرآن کې راغلي دي؟

**شپږ ويشتم سوال:** : د آيت شريف دا برخه وژباړئ؟ ﴿ يَا أَيُّهَا الْإِنسَانُ مَا غَرَّكَ بِرَبِّكَ الْكَرِيمِ ﴾

**اووه ويشتم سوال:** د انسان د جوړښت او خلقت پړاوونه د الله تعالی په څه شي دلالت کوي، ويې ليکئ؟

**آته ويشتم سوال:** د لاندې آيت شريف ژباړه وليکئ؟

﴿ ثُمَّ خَلَقْنَا النُّطْفَةَ عَلَقَةً فَخَلَقْنَا الْعَلَقَةَ مُضْغَةً فَخَلَقْنَا الْمُضْغَةَ عِظَامًا فَكَسَوْنَا الْعِظَامَ لَحْمًا ثُمَّ أَنشَأْنَاهُ خَلْقًا آخَرَ فَتَبَارَكَ اللَّهُ أَحْسَنُ الْخَالِقِينَ ﴾

**نه ويشتم سوال:** الله تعالی په دې آيت کې ﴿ وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِي آدَمَ وَحَمَلْنَاهُمْ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ وَرَزَقْنَاهُم مِّنَ الطَّيِّبَاتِ وَفَضَّلْنَاهُمْ عَلَى كَثِيرٍ مِّمَّنْ خَلَقْنَا تَفْضِيلاً ﴾ د بني آدم څه شی بيان کړي دي، ويې ليکئ؟

**ديرشم سوال:** د لاندې آيت شريف ژباړه وليکئ؟

﴿ وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِي آدَمَ وَحَمَلْنَاهُمْ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ وَرَزَقْنَاهُم مِّنَ الطَّيِّبَاتِ وَفَضَّلْنَاهُمْ عَلَى كَثِيرٍ مِّمَّنْ خَلَقْنَا تَفْضِيلاً ﴾

**یو دیرشم سوال:** پوښتنه: الله تعالی انسان ته په کومو ځیزونو سره د ځمکې په سر نورو مخلوقاتو باندې فضیلت او غوره والی ورکړی دی، ویې لیکئ؟

**دوه دیرشم سوال:** د انسان د تکریم او فضیلت تر منځ توپیر څه دی ویې لیکئ؟

**دری دیرشم سوال:** د بني آدم د عزت دوه نښې ولیکئ؟

**څلوردیرشم سوال:** د لاندې آیت شریف ژباړه ولیکئ؟

﴿ لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنسَانَ فِي أَحْسَنِ تَقْوِيمٍ ﴾

**پینځه دیرشم سوال:** د قرآن کریم لوړه څوکه په قرآن کې کومه یاده شوې ده، ویې لیکئ؟

**شپږدیرشم سوال:** د قرآن کریم لاندې کلمات وژباړئ؟

﴿ اللّهُ لاَ إِلَـهَ إِلاَّ هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ لاَ تَأْخُذُهُ سِنَةٌ وَلاَ نَوْمٌ ﴾

**اووه دیرشم سوال:** د دې الهي وینا﴿ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ ﴾مقصد څه دی، ویې لیکئ؟

**آته دیرشم سوال:** اية الکرسي لوستل په کومو وختونو کې زیات ثواب لري، ویې لیکئ؟

**نه دیرشم سوال:** : د کوم آیت شریف په لوستلو سره شیطانان له کوره شړل کیږي، ویې لیکئ؟

**څلویښتم سوال:** د لاندې قرآني آیت ژباړه ولیکئ؟

﴿ هُوَ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ ذَلُولًا فَامْشُوا فِي مَنَاكِبِهَا وَكُلُوا مِن رِّزْقِهِ وَإِلَيْهِ النُّشُورُ ﴾

**یو څلویښتم سوال:** د لاندې قرآني آیت ژباړه ولیکئ؟

﴿ أَأَمِنتُم مَّن فِي السَّمَاء أَن يَخْسِفَ بِكُمُ الْأَرْضَ فَإِذَا هِيَ تَمُورُ ﴾

**دوه څلویښتم سوال:** لاندې کلمې معنا کړئ؟

[ذلولا، مناکبها، حاصبا، تمور]

**دری څلویښتم سوال:** پوښتنه: لاندې قرآني آیت وژباړئ؟

﴿ أَمْ أَمِنتُم مَّن فِي السَّمَاء أَن يُرْسِلَ عَلَيْكُمْ حَاصِبًا فَسَتَعْلَمُونَ كَيْفَ نَذِيرِ ﴾

**څلور څلویښتم سوال: د لاندې آیت شریف ژباړه ولیکئ؟**

﴿ قُلْ إِن كُنتُمْ تُحِبُّونَ اللّهَ فَاتَّبِعُونِي يُحْبِبْكُمُ اللّهُ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَاللّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴾

**پینځه څلویښتم سوال: د دې وینا** ﴿ قُلْ إِن كُنتُمْ تُحِبُّونَ اللّهَ فَاتَّبِعُونِي ﴾ **د نزول سبب ولیکئ؟**

**شپږ څولیښتم سوال: له الله تعالی سره د مینې لومړۍ نښه کومه ده ویې لیکئ؟**

**اووه څلویښتم سوال: لاندې آیت شریف وژباړئ؟**

﴿ أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ يَزْعُمُونَ أَنَّهُمْ آمَنُواْ بِمَا أُنزِلَ إِلَيْكَ وَمَا أُنزِلَ مِن قَبْلِكَ يُرِيدُونَ أَن يَتَحَاكَمُواْ إِلَى الطَّاغُوتِ ﴾

**آته څلويښتم سوال:** فاروق يعنی څه وېي ليکئ؟

**نه څلويښتم سوال:** لاندې کلمات معنا کړئ؟

( الحَيُّ) (سِنَةٌ) (وَلاَيعؤُدُهُ)

**پنځوسم سوال:** د لمانځه او زکوة ترمنځ د فرق کوونکو پروړاندې داسلام کوم خليفه د جنګ اعلان وکړ؟

**سوالات چهارجوابه**

ديوولسم ټولګی دتفسير شريف سوالونه:

اول سوال:: دالله ج دقدرت دثبوت لپاره يو عقلی دليل په نښه کړئ؟

(الف) دانسان پيداښت. (ب) دپيغمبرانو رالېږل. (ج) دشپی او ورځی بدلون دځمکی او اسمانونو پيدايښت په سيندونوکی دکښتيو زغلول داټول دالله تعالی په قدرت څرګند عقلی دلايل دی. (د) هيڅ يو.

دوهم سوال: الفلک کلمه لاندی معنا ګانی لری؟ (الف) آسمان او ځمکه . (ب) دځمکې پرمخ هر خوځيدونکی شی. (ج) په خدمت کې لګيدلی يا تابع شوی. (د) کښتی.

دريم سوال: تصريف الرياح لاندی معناګانی لری.؟ (الف) وچې او لمدی ونی. (ب) دباد لګيدنه مختلفو اړخونو ته. (ج) په فضا کې حرکت کوونکې وريځ. (د) هيڅ يو

څلورم سوال: دشپې او ورځې دبدلون په هکله قرانی دليل په نښه کړئ؟ (الف) وهو الذی جعل لکم النجوم لتهتدوا بها. (ب) الذی جعل لکم الارض فراشا والسماء بناءآ. (ج) ان فی خلق السموات والارض واختلاف اليل والنهار. (د) دری واړه صحيح دی.

پينځم سوال: دالله تعالی دقدرت له نښآنو څخه په سمندر کی دلويو کښتيو حرکت دی په دی هکله قرانی دليل په نښه کړی.؟ (الف) ومن الليل فتهجد به نافلة . (ب) والفلک التی تجری فی البحر بما ينفع الناس. (ج) الف او ب دواړه صحيح دی. (د) والتصريف الرياح والسحاب المسخر بين السماء .

شپږم سوال: په کايناتو کې دالله تعالی دوجود او وحدانيت دليل وليکئ؟ (الف) سبحان الذی اسرای بعبده ليلا من المسجد الحرام ..(ب) سبحان ربک رب العزت عمايصفون. ـ(ج) الف جز صحيح دی. (د) ان فی خلق السماوات والارض واختلاف الليل والنهار والفلک التی تجری فی البحر بماينفع الناس.

اووم سوال: دانسان دپيدايښت دپړاوونو په هکله قرآنی دليل وليکئ؟ (الف) فتبارک الله احسن الخالقين. (ب) ن والقلم وما يسطرون. (ج) ولقد خلقنا الانسان من سلالة من طين ثم جعلناه نطفة فی قرار مکين ثم خلقنا النطفة علقة فخلقنا العلقة مضغة مخلقنا المضغة عظاما فکسونا العظام لحما ..(د) دری واړه صحيح دی.

آتم سوال: قرارمکين لاندی معنا ګانی لری؟ (الف) لږی او حقيری اوبه. (ب) خوندی ځای دمور رحم. (ج) سوچه اوثمره، (د) ټول غلط دی.

نهم سوال: خلقا آخر لاندی معناکانی لری؟ (الف) ترلی او جامده وینه. (ب) خلاصه او نتیجه. (ج) بل مخلوق دروح له پوکیدو وروسته کامل انسان. (د) ټول صحیح دی.

لسم سوال: مضغة معنا کړئ؟ (الف) یو ځاځکی وینه. (ب) کامل انسان. (ج) دژوول شوی مړی په اندازه دغوښې یوه وړه ټوټه. (د) ټول غلط دی.

یوولسم سوال: لاندې آیت شریف ترجمه کړې یا ایها الانسان ما غرک بربک الکریم؟ (الف) ای انسان کبر مکوه. (ب) ای انسانه ته څه شی په خپل مهربان او عزتمن رب تیرایستلی یی. -(ج) ای انسان ته بیرته مړ کیږی. (د) ای انسانه ته به دقیامت په ورځ څّه کړی.

دوولسم سوال: دبنی آدم دوقار او درنښت په اړه یو قرآنی دلیل په نښه کړئ؟ (الف) یا ایهاالانسان ما غرک بربک الکریم. (ب) ووصینا الانسان بوالدیه. (ج) فسبح بحمد ربک واستغفره . (د) ولقد کرمنا بنی آدم وحملنا هم فی البروالبحر ورزقناهم ..

دیارلسم سوال: الله تعالی انسان په ښایسته او مناسب شکل سره پیدا کړی پدی اړه قرآنی دلیل په ګوته کړئ؟ (الف) وجعلنا من بین ایدیهم سدا ومن خلفهم سدا.. (ب) والفجر والیال عشر. (ج) لقد خلقنا الانسان فی احسن تقویم. (د) ټول صحیح دی.

څوارلسم سوال: پرنورو مخلوقاتو دانسان فضیلت او غوره والی په څه شی کی دی.؟ الف پدی کی چې انسان دوی پښې لری. (ب) پدی کې چې انسان ډیر مسولیت لری. (ج) پدی کې چې انسان ته یی عقل او فکر ورکړی دی. (د) ټول صحیح دی.

پینځه لسم سوال: سورت اخلاص له څه شی څخه بحث کوی؟ (الف) دقیامت په ورځی څخه. (ب) دالله تعالی وحدانیت او بی نیازیتوب بیانوی. (ج) دقبر عذاب بیانوی. (د) دعلم دفضیلت په هکله.

شپاړسم سوال: دقرآن لوړه څوکه دقرآن له کوم آیت څخه عبارت ده؟ (الف) له سورت اخلاص څخه. (ب) له آیة الکرسی څخه. (ج) له آیت الدین څخه. (د) ټول غلط دی.

اووه لسم سوال: ولا یئوده معنا کړئ؟ (الف) تل ژوندی پآتی کیدل. (ب) پریشانی. (ج) هغه نه ستړی کوی په هغه دروندوالی نه راولی. (د) ټول صحیح دی.

آته لسم سوال: القیوم معنی کړئ؟ (الف) تل ژوندی. (ب) نه ستړی کیدونکی . (ج) الف او ب دواړه صحیح دی. (د) په خپل ذات ولاړ

نوولسم سوال: آیت الکرسی په کوم آیت سره پای مومی.؟ (الف) لعلکم تتفکرون. (ب) وهو العلی العظیم. (ج) افلا یعقلون. (د) هیڅ یو.

شلم سوال: دقرآن کریم ترټولو لوی سورت عبارت له کوم سورت څخه دی؟ (الف) سورت الاخلاص . (ب) سورت مریم. (ج) سورت البقره. (د) سورت الیوسف.

یوویشتم سوال: ځمکه دانسان دګټی لپاره ده پدی اړه قرآنی دلیل په نښه کړئ؟

(الف) ولایئوده حفظمها وهو العلی العظیم. (ب) هو الذی جعل لکم الارض ذلولا فامشو فی مناکبها وکلو من رزقه والیه النشور. (ج) ان یرسل علیکم حاصبا فستعلمون کیف نذیر. (د) ټول صحیح دی.

دوه ویشتم سوال: مناکبها معنا کړئ؟ (الف) دمنکب جمع ده داوړو په معنا ده. خو دلته تری دځمکي اړخونه مراد دی. (ب) په لرزه راځی. (ج) تابع شوی . (د) شدید باد.

دری ویشتم سوال: تمور معنا کړی؟ (الف) شدید باد چی شکی اوچتوی. (ب) تابع شوی. ـ(ج) په لړه زه راځی . (د) ټول غلط دی.

څلورویشتم سوال: دالله تعالی سره مینه دپیغمبرص په تابع داری کی ده پدی دلیل په نښه کړئ؟ (الف) من عمل عملا لیس علیه امرنا فهو رد. (ب) فامشو فی مناکبها وکلو من رزقه. (ج) قل انکنتم تحبون الله فاتبعونی یحببکم الله ویغفرلکم ذنوبکم والله غفوررحیم. (د) ټول صحیح دی.

پینځه ویشتم سوال: یزعمون معنا کړی؟ (الف) مخ اړوی.(ب) فکر کوی. (ج) الف او ب دواړه صحیح دی. (د) ګومان کوی دروغجنه دعوه کوی.

شپږ ویشتم سوال: (ان یفتنکم) معناکړئ؟ (الف) کله مو چی سفروکړ. (ب) که چیری تاسو ته ضرر او ازار ورسوی. (ج) درمن کیږی. (د) ګناه وبال.

آووه ویشتم سوال: (صوامع) معنا کړئ؟ (الف) په ناحقه په ناروا. (ب) دصومعه جمع ده دراهبانو ځانګړی عبادت ځایونه. (ج) دیهود یانو عبادت ځایونه . (د) دنصاراوو کلیساوی.

آته ویشتم سوال: (فج عمیق) معنا کړی؟ (الف) وموټآکه چمتو موکړ. (ب) اعلان وکړه. (ج) لرې او ژورې لارې ګوښې او اړخونه. (د) پیاده

نهه ویشتم سوال: (صلدا) معنا کړی؟ (الف) لغړه له خاورو پاکه. (ب) زیاتوی څو برابره کوی. (ج) سخت باران. (د) ښویه تیږه.

دیرشم سوال: (بخمرهن) معناکړی؟ (الف) ندی ښکاره کوی. (ب) خمر دخمار جمع ده هغی جامی ته ویل کیږی چی ښځې پری خپل سر او ګریوان پټوی. (ج) خپل ښایست. (د) ګریوان.

**یو دیرشم سوال:** د روژې تعریف په لاندې ځوابونو کې په نښه کړئ؟

الف: روژه په مطلق ډول له خوراک څخه منع کوولو ته وایي. ب: روژه یعني له څښاک څخه ځان ساتل: ج: له ځانګړو شیانو څخه په ټاکلي وخت او ځانګړې طریقې او صفاتو امساک او ځان ساتنې ته روژه ویل کیږي. د: ټول غلط د ي.

**دوه دیرشم سوال:** روژه په پخوانیو امتونو باندې فرض وه که یوازې په اسلام کې یې د فرضیت حکم نازل شوی دی؟

الف: نخیر روژه په نورو امتونو نه وه فرض. ب: روژه په ځینو فرض وه او په ځینو نه وه فرض. ج: بلې روژه په ټولو پخوانیو امتونو په مختلفو کیفیتونو شتون درلود. د: هیڅ یو.

**دری دیرشم سوال:** د رمضان میاشتې د روژې له رخصت څخه کوم کسان ګټه پورته کولی شي؟

الف: هغه کسان چې زیات مصروف وي او دمسلمانانو په خدمت بوخت وي. ب: ناروغ، مسافر او عمر خوړلي کسان. ج: یوازې ماشومان . د: هیڅ یو.

**څلور دیرشم سوال:** الله تعالی خپلو بنده ګانو ته په خطاب کې فرمایي: (فَإِنِّى قَرِيبٌ) لدې جملې څخه هدف څه دی؟

الف: هدف دادی چې الله تل د بنده ګانو دعا قبلوي. ب: هدف دادی چې ترڅو خپلو بنده ګانو خپل ډیر نیژدیوالی وښیي چې د مؤمن بنده د دعا او الله تعالی ترمنځ هیڅ واسطه اوپرده نشته. ج: هدف یې دادی چې الله تعالی نیک اعمال قبلوي. د: هیڅ یو.

**پینځه دیرشم سوال:** د کعبې شریفې د جوړښت اساس او مقصد څه دی؟

الف: د مسلمانانو ورتګ دحج لپاره. ب: دمسلمانانو د اتحاد او یووالي په خاطر. ج: کعبه شریفه دتوحید پر بنسټ جوړه شوې ده او دجوړښت مقصد یې دیو الله تعالی عبادت او بنده ګي ده. د: ټول صحیح دي.

**شپږ دیرشم سوال:** د آیت شریف صحیح ژباړه په ګوته کړئ؟ ( وَأَحسِنُو اِنَ اللهَ يُحِبُ المُوحسِنِين).

الف: نیکي وکړئ یقیناً الله تعالی نیکي کوونکي خوښوي. ب: تل رښتیا ویونکي اوسئ. ج: تل دالله تعالی عبادت کوئ. د: هیڅ یو.

**اووه دیرشم سوال:** د طیبات صحیح معنا په نښه کړئ؟

الف: هغه خواړه چې صحت ته مفید وي. ب: د طیب جمع ده حلال شیان. ج: هغه خواړه چې طبیعي وي. د: هیڅ یو.

**آته دیرشم سوال:** ( صَفوَان) څه ته وایي صحیح معنا یې په نښه کړئ؟

الف: ښویه تیږه. ب: دښته او بیابان. ج: شنه زراعتي ځمکه. د: ټول صحیح دي.

**نه دیرشم سوال: (مَثَلُ الَّذِينَ يُنفِقُون)** دا آیت شریف د چا په حق کې نازل شوی دی؟

الف: د حضرت علی رضی الله عنه په اړه. ب: د حضرت عثمان بن عفان او عبدالرحمن بن عوف په اړه. ج: د خالد بن ولید په اړه. د: ټول صحیح دي.

**څلویښتم سوال:** د (شُعُباً) صحیح معنا په نښه کړئ؟

الف: د شعب جمع ده ډیر خلک چې یو واحد اصل سره جمع کړي وي. ب: یو قوم ته وایي. ج: د قبیلې په معنا ده. د: هیڅ یو.

د یوولسم ټولګي د تفسیر شریف د لنډ ځواب پوښتنې:

**لومړی سوال:** د ځمکي ژوندي کيدل او دځمکې پرمخ د مخلوقاتو خوريدنه د څه شي څرګندونه کوي؟

**دوهم سوال: (تَصرِيف رِيَاح)** څه معنا؟

**دریم سوال:** د شپې او ورځې بدلون دڅه شي لپاره دلیل کیدای شي؟

**څلورم سوال:** امام فخرالدین رازي دالله تعالی نعمتونه په څو ډوله تقسیم کړي دي؟

**پینځم سوال: (سُلاَلَةٍ)** څه معنا؟

**شپږم سوال:** د جنین څلورمه مرحله کومه ده؟

**اووم سوال:** الله تعالی انسان ته د کوم نعمت په ورکولو پرنور مخلوقاتو فضیلت ورکړی دی؟

**آتم سوال:** کوم آیت شریف د قرآن کریم د لوړې څوکې په نامه سره یادیږي؟

**نهم سوال:** آیة الکرسی دالله تعالی په کوم صفت سره  پیل شوی ده؟

**لسم سوال:** آیة الکرسی دالله تعالی په څونومو باندې مشتمل دی؟

**یوولسم سوال:** د آیة الکرسي لوستل په کومو وختونوکې زیات ثواب لري؟

**دوولسم سوال:** الله تعالی ځمکه او څه چې پر ځمکه کې دي د څه لپاره پیداکړي دي؟

**دیارلسم سوال:** الله تعالی سره مینه او محبت څه حکم لري؟

**څوارلسم سوال: (يَزعُمُون) څه معنا؟**

**د پینځه لسم سوال: (الطآغِوت)** څه معنا؟

**شپاړسم سوال:** حَکمیت او فیصله دالله تعالی له کتاب او د رسول الله صلی الله علیه وسلم له سنتو پرته څه حکم لری؟

**اووه لسم سوال:** مسلمان دشخړو او دعوی د حل په صورت کې څه شي ته مراجعه کولی شي؟

**آته لسم سوال سوال:** (کِتَاباً مَوقُتا) څه معنا؟

**نولسم سوال: د لمانځه لغوی معنا څه ده؟**

**شلم سوال:** (بِأَنَهُم ظُلِمُ) څه معنا؟